مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۳/۲۰

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم توک

۳۵۳ مه پرله پسې برخه

## کابل

## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**لعل پور: یا: لعل پوره**: ۱۵ – ۳۴، ۳ – ۷۱ «الف»: لعل پور د ننگرهار د ولایت یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۵۳۰ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـې چې بزګرې پرګنې دي د ۵۵۵۵ تر ۷۸۹۰ تنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له شمال لویدیځ لوري له ګوشتې، له شمال ختیځ او ختیځ لوري له پاکستان، له سویل او لویدیځ لوریو له مهمند درې سره کربنه لري. لعل پوره ۱۱ کلي لري چې ۶ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو څخه ډېــر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لال پور | Lalpur | کامــهٔ لعل پور | | زیارت میله «بــیـلـه» | Ziarate Mela (Bela) |
| ګل ډاګ | Gul Dag | چکنور | Chaknur | صاحب زاده گانو کلی | چکنور علیا |
| چکنور سفلی | | ګرد آبي «ګرداني» | | Gerdabi ( Gerdani) | سادهٔ لال پور؟/ صدای لال پور؟ |
| Sada -i- Lalpur | | شاکوټۍ | Shakotay | مرسنگي | Mar Sangi |
| (لودویګ آدمک) | | | | | |

دا ساحه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

لوړوالی: ۱۴۵۰ فیټه. دا د جلال آباد په ولسوالي کې یو کلی دی چې له پېښور څخه ۴۷ مایله لیرې موقعیت لري. دا کلی د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «لویې ډکې» [1] په بلافاصله مقابل لوري کې موقعیت لري. دا کلی د مهمندو د قبیلې ډېر لوی کلی دی چې د «ساده» او «ملیخانه» [2] کوچني کلي هم په ځان کې رانغاړي. د لال پورې او ډکې تر منځ یوه جاله سته او هم یو ګودر دی چې تېریدل ورڅخه سخت دي ؛ دا سخت تېریدل هم هغه مهال شوني وي چې د اوبو سطحه ټیټه وي؛ همدا شان د سړې هوا په موسم کې دلته د کوچنیو کښتیو یو پل هم وي خو کله چې واورې په ویلې کیدو سي او په پسرلي کې د سیند د اوبو سطحه لوړه سي نو اوبهٔ دا کښتی له ځان سره وړي او یا له هغه مخکې ئې خلک له یوبل څخه جلا کوي او له اوبو ئې راباسي.

تر دا وروستیو پورې، محمد اکبر خان چې په قوم مهمند وو، د لال پورې خان وو خو په ۱۹۰۶ز کال کې کابل ته احضار سو او تر دې دمه تر نظارت لاندې دی او د خان توب پر مقام باندې تر اوسه بل څوک نهٔ دي ټاکل سوی.

د لال پورې د کلي د ختیځ په نېږدې ۱ مایلی کې په همدې نوم یوه قرار ګاه ده چې د پلي ځواک ۲ لیواګاني او ۵۰۰ خاصه داران په کې ځای پر ځای دی. پر دغو سرتېرو سربیره ویل سوي چې امیر په پام کې لري دلته د توپچي ځواک یوه بطریه او د سپارهٔ ځواک یو غنډ ځای پر ځای کړي. (جنکینز، ونلیس، آی. بي. سي)

**لمه خیل**: [3]: دا یوه قبیله ده چې بنایي منګل وي ؛ ویل سوي چې دوی د «دري کلا» او «شتر ګردن» [4] د کوتل تر منځ سیمي کې استوګن خلک دي. (آی. بي. سي)

**لمټک**: [5]: ۴۴ – ۳۴، ۲ – ۷۱ «ج»: دا د الینګار د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې د مندراوړ د شمال په شاوخوا یو نیم مایلی کې په لغمان کې یو کلی دی. دې کلي کې دهګانان اوسېږي او له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | باندهٔ موسی دادو | Banda -i -Musa Dado |
| ۲ | فقیران | |
| ۳ | زیارتِ پیر سبز بابا | |
| (واربرټن) | | |

**لمټک**: – ۳۴، – ۷۰: دا د کونړ د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې له ښیوې پورته یو کلی دی. دې کلي کې تقریباً ۶۰ کورونه دي. (میسن)

**لمتي شیک** (شیخ؟): [6]: دا په لغمان کې یو کلی دی چې له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | قلعهٔ سهراب | |
| ۲ | صدر بـِـن | Sadar Bin |
| ۳ | باندهٔ باور | |

1-Loe Dakka
2-Sada and Malikhana
3-LAMA KHEL
4-Dre Kala and the Shutur Gardan pass
5-LAMATAK
6 -LAMATI SHIAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د دغو کلیو استوګن وګړي دهګانان، غلزي او نور ګډ قومونه دي. (واربرتن) شیک کیدای سي شیخ ولوستل سي. (لودویګ آدمک)

**لمغان:** وګورئ: لغمان

**لنده بوچ:** [7]: ـ۳۴، ـ ۷۰ : دا د جلال آباد د ولسوالي د کامي د علاقه داری یو کلی دی چي د "دِهٔ غازي" [8] د شمال ختیځ په نبـږدی ۳ مایلی کي موقعیت لري. استوګن وګړي: اعراب، پراچه او صاحب زاده ګان دي. (جنکینز)

**لندر صادق :** [9]: دا د خوست یو سیند دی چي له "شمیل" [10] سره له یوځای کیدلو وروسته د "کیتو" [11] سیند جوړوي.

دا سیند په خپلو غاړو کي دا کلي لري: "زمبر مالي تریزي"، "علي شیره"، " ارم خیل" [12] (محمد حیات)

**لنډی:** وګورئ: لنډی

**لنده:** [13]: ـ ۳۳، ـ ۷۰: دا په خوست کي د شمیل د سیند په کینه غاړه کي د "قدم" [14] د سویل په ۳ مایلی کي یو کلی دی.

(آی. بي. سي)

**لنده:** ـ۳۳، ـ ۷۰: دا په خوست کي د "شابک" [15] د کوتل د سویل لویدیځ په ۱۴ مایلی کي او د متون د ختیځ په ۲/۱ ـ ۱۳ مایلی کي یو کلی دی. دا کلی د "کیتو" یا د "شمیل" [16] د سیند د کیني غاړې په اوږدو کي د "لندهه" [17] له سیند سره د یو ځای کیدني په ټکي کي موقعیت لري. دلته د کمپ وهلو لپاره پریمانه ځای سته چي اوبـهٔ ئـي له سیند څخه دي، دلته د سیند غاړې ټیټي دي او د سیند بستر شګلن دی. (آی. بي. سي)

* **لنډی:** [18]: ۱۳ ـ ۳۴، ۱۴ ـ ۷۰ "ن": ۱۳ ـ ۳۴، ۱۴ ـ ۷۰ "ن": دا د ننګرهار په ولایت کي د "پچیر آګام" [19] د شمال لویدیځ په قریب ۳ مایلی کي او د جلال آباد په شمال لویدیځ کي یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د غني خیلو د سویل په څو مایلی کي شمال لور ته د کابل د سیند پر لور د لارې په اوږدو کي په ۹ ـ ۳۴، ۴۸ ـ ۷۰ "ن" کې؛ د پکتیا په ولایت کي د "زور کټ" [20] په سویل لویدیځ کي په "خیر اسپان" [21] کي په ۲۸ ـ ۳۳، ۴۲ ـ ۶۹ "ن" کې؛ د پکتیا د

---

7 -LANDABUCH
8-Deh -i- Ghazi
9 -LANDAR SADIK
10-Shamil
11 -Kaitu
12-Zambar Mali Tarizi, Ali Shera, Aram Khel
13 -LANDAH
14 -Kadam
15-Shabak pass
16-Kaitu or Shamil river
17-Landha
18-LANDAY
19-Pachier Agam
20 -Zurket
21 -Khairaspan

ولایت په ختیځ کې د څمکنیو د سویل په شاوخوا ۵ مایلۍ کې په ۳۳ ــ ۴۴، ۴۹ ــ ۶۹ «ن» کې؛ د پکتیا په ولایت کې متون ته پر لارې د تنیو په سویل کې په ۱۱ ــ ۳۳، ۵۰ ــ ۶۹ «ن» کې.

* **لنډي خیل:** ۱۲ ــ ۳۴، ۱۶ ــ ۷۰ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې پچیر آګام ته نېـږدې د کابل د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**لنډي وام:** [22]: ۴۹ ــ ۳۳، ۳۹ ــ ۶۸ «ن»: دا د ‹داوؤد زیو› په سویل ختیځ کې د کونړ د سیند د ښۍ غاړې په امتداد کې یو کلی دی. استوګن وګړي: «احمد خیل ځاځي» [23] ، دوی کولای سي ۲۰۰ تنه جنګیالي چمتو کړي. (آی. بي. سي)

* **لنګک:** [24]: دا د بامیانو د ولایت په سویل کې د هلمند د سیند دغاړې په اوږدو کې «پیتاو قول» [25] ته نبـږدې یو کلی دی.

**لنګر:** ۴۹ ــ ۳۴، ۱۱ ــ ۶۹ «ن»: دا د کابل د شمال په ۲۴ مایلۍ کې په کوهدامن کې یو کلی دی. دې کلي کې ۶۰ کورونه دي. (میسن)

**لنګر** :۲ ــ ۳۴، ۴۶ ــ ۶۸ : دا هغه سیند دی چې د «شنیز» [26] له سیند سره له یو ځای کیدلو وروسته د شیخ آباد د سویل په شاوخوا ۳ مایلۍ کې د لوګر سیند کـېـږي. د لنګر دره حاصلخیزه ده خو د کرل سویو ځمکو لمنه ئـې د سیند له دواړو غاړو څخه ډېـره وړاندې نـهٔ ده تللې. دره ختیځ لور ته منقبضه سوې ده او تر ډېـره د وردکو د تنګې ځانګړتیاوې لري. د لنګر سیند د شیخ آباد له منځه تـېـرېـږي او همدلته د معماري د یوهٔ پلـهٔ پاتې شوني سته چې سیلابونو وران کړی دی. د سیند اوبـهٔ معمولاً لږه ژورتیا لري. له همدې ټکي څخه د «امبو خاک» [27] کلی، لویدیځ لور ته ۲/۱ ــ ۵ مایله او د عبدالغفور کلی لا ۲/۱ ــ ۲ مایله نور وړاندې دی. د عبدالغفور کلی د لنګر په درې کې اساسي لوی کلی دی. (آی. بي. سي)

* **لنګر:** ۹ ــ ۳۴، ۴۱ ــ ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د غزني ــ کابل د لویې لارې په لویدیځ کې ګرداب ته نبـږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه د کلکانو په شمال ختیځ کې او د کابل ــ چاریکار د سرک په لویدیځ کې د کابل په ولایت کې په ۴۹ ــ ۳۴، ۱۲ ــ ۶۹ «ن» کې؛ او د پنجشیر د رخې د سویل په ۳ مایلۍ کې په ۱۵ ــ ۳۵، ۲۵ ــ ۶۹ «ج» کې موقعیت لري.

**لنګر**: وګوری: شملتو

---

[22]-LANDI WAM
[23]-Ahmad Khel Jajis
[24]-LANGAK
[25]-Pitaoqol
[26] -Shiniz
[27] -Ambo Khak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**لنګر**: دا د سرخاب په درې کې یو کلی دی او هم د یوهٔ سیند نوم دی چې د سپین غرهٔ له شمالي ډډو څخه سرچینه اخلي او مخ پر لویدیځ د «سیکارام» [28] (اوسنی سید کرم – ژ) پر لور بهېـږي او دواړه په ګډه د سرخاب سیند تشکیلوي. د کلي استوګن وګړي: «ګهر منګل» [29] (آی. بي. سي)

**لنګر**: دا په کټواز کې د «تره کیو» یو کلی دی چې د (ګومل د درې) له «دوماندي» [30] څخه تر غزني پورې نهم منزل جوړوي او ۶۶ مایله واټن ورڅخه لري. په دې کلي کې دوه کلا ګانې دي په دواړو کې په ګډه ۸۰ کورونه دي. لویه کلا ئـې ۱۰۰ یارډه لویوالی لري؛ د ختو له پخسو جوړ دیوالونه ئـې ۶ فیټه پریړوالی لري او په جناحینو کې ئـې برجونه ودان سوي دي؛ د کلا شا و خوا کوم خندق نـهٔ سته او دروازه ئـې پوښښ نـهٔ لري. دا په کټواز کې تر نورو کلا ګانو پیاوړې کلا ده. (براد فوټ، آی. بي. سي)

**لنګر**: ــ ۳۵، ــ ۶۹: دا د پنجشیر د درې په پورتـنی برخې کې یوه کلا ده چې له عنابې څخه ۵ مایله پورته ده. د ګلزار خان زوی لنګر خان چې د کوز پنجشیر مشر وو، په ۱۸۸۶ز کال کې همدلته اوسیدهٔ. له کلا دباندې د خان د خدمتګارانو ۱۰ جونګړې دي. د درې ارتوالی دلته له ۶۰۰ تر ۷۰۰ یارډو پورې دی. (شهزاده تیموس)

**لرګر**: وګورئ: کوهٔ بابا: [31]

**لرګي**: [32]: دا د غزني د سویل لویدیځ په ۴۸ مایلی یو کلی دی. (تورنتون)

* **لر کلی**: [33]: ۵۱ – ۳۲، ۳۵ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د مقر په لویدیځ کې د «آغوجان» [34] د شمال په شاوخوا ۸ مایلی کې یو کلی دی.

* **لارو**: [35]: ۱۸ – ۳۴، ۳۰ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د هلمند د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **لښکري خیل**: ۹ – ۳۴، ۵ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر په ولایت کې کابل ته د تللي سړک په اوږدو کې د کلنګار د شمال په نېـږدې ۵ مایلی کې یو کلی دی.

* **لشکر راه**: دا د یوهٔ آسانه کوتل نوم دی چې د کابل - هزاره جاتو – دولت یار سړک ورباندې تـېـر سوی دی او د دولت یار د سویل ختیځ په قریب ۲/۱ – ۸ مایلی کې موقعیت لري. دا کوتل په دې ټکي کې د کابل او هرات د ولایتونو تر منځ کرښه جوړوي. (ونلیس)

---

28 -Sikaram

29 -Gehar Mangals

30 -Domandi (Gumal valley)

31- LARGAR See KOH -I –BABA : د لرګر د نامـهٔ مخې ته ئې په عربي الفباء «لنګر» لیکلي دي. زه ژباړونکی ډاډه نـهٔ یم چې دا لنګر دی که لرګر. - ژ

32 -LARGI

33 -LAR KALAI

34 -Aghojan

35 -LARO



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **لشکو**: [36]: ۱۸ – ۳۳، ۱۹ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې غزني ته د تللي لویې لارې په اوږدو کې د «کالاخیلو» [37] په شمال ختیځ کې یوکلی دی.

**لـتـــه بـنــد**: [38] :۳۰ – ۳۴، ۳۴ – ۶۹ «الف»: لوړوالی :۷۹۵۰ فیټه. دا د «کرکچه» [39] په غرونو کې یو کوتل دی چې د «سهٔ بابا» او «بت خاک» [40] تر منځ واقع دی. په ۱۸۷۹ – ۱۸۸۰ز کال کې د افغان جګړې پر مهال همدلته یوه پوسته ځای پر ځای سوه ؛ کله چې افغانانو په شیرپور باندې برید وکړ په همدې پوستې کې ډګروال هدسن له څه کم ۱۰۰۰ تنو سرتـیـرو سره ځای پر ځای وو چې په دې ډول سره د کابل په شیرپور کې د محاصره سوې فرقې او له باندنی نړۍ سره هیلوګرافیکي اړیکه ټینګه وه او آسمان هم په کافي اندازه شین وو نو ځکه هیلوګرافیکي یا د هینداري اړیکه ورسره آسانه وه. د لښکر د دومره ځواک شتون په لته بند کې او ورسره په جګدلک کې زموږ د ځواک میشت ګارنیزیون په دې معنی وو چې د تیزین غلزي تر ځار لاندې ولري؛ لته بند باندې یوازې یو ځل برید وسو چې دښمن ته په آسانې سره ماتې ورکړل سوه او ډیـر تلفات ئـې هم وګالل.

مخکې له دې چې برتانویان کابل تخلیه کړي د همدې کوتل پر سر د عرابه لرونکو وسایطو د تګ لپاره یوه لاره جوړه سوه. خو له دې چې په دې لارې باندې نور ترمیماتي کارونه ونـهٔ سول، دا لاره ټوله ونړیدله. (آی. بي. سي)

**لیوان: لهوان**: [41]: – ۳۳، – ۶۹: دا له ګردیز څخه شاوخوا ۱۰ مایله لیرې د سرک په اوږدو کې یو کلی دی ؛ دا سړک له همدې ځایه د التیمور کوتل ته ځي او کلی په هغـهٔ تکي کې واقع دی چې سړک پر غرونو ورننوځي. استوګن وګړي: «امازي غلزي». [42] (آی. بي. سي)

**لهواني**: یا: لر لیواني: [43]:۵۷ – ۳۳، ۴۸ – ۶۹ «ن»: دا د «کرجه سیند» په ښی غاړه کې د پیوار د کوتل د لویدیځ په قریب ۴ یا ۵ پینځه مایلی کې یو کلی دی او ځاځي په کې استوګن دي. دا کلی د کوچنیو کلیو یوه ټولګه ده؛ هر کوچني کلي کې ۳ یا ۴ کلاګانې دي چې د کور بڼه لري؛ دا کلي یا په ګوښې ګوټ ځایونو کې یا د غرونو تر منځ د تشو په پناه ځایونو کې واقع دي او یا هم د مسلطو لوړو ځایونو پر سرونو جوړ سوي دي. تقریباً هر کور یو یو برج لري چې یا د مدافعې لپاره او یا د ځار لپاره جوړ سوي دي. (بـېـلو، لمسدن)

* **لیوان**: [44]: ۳۵ – ۳۳، ۳ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د ګردیز په لویدیځ کې، دینارخیلو ته نـېـږدې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د پکتیا په ولایت کې د ګردیز د شمال په ۴ مایلی کې کابل ته د تللي لویې لارې په اوږدو کې

36 -LASHKO
37 -Kalakhel
38 -LATABAND
39 -Karkacha hills
40 -Seh Baba and Butkhak
41 -LEHWAN
42 -Amazai Ghilzais
43 -LEHWANAI Or LAR LEWANI
44 -LEWAN

په ۳۹ – ۳۳، ۱۴ – ۶۹ «ن» کې؛ د میدان په ولایت کي د کوتـۀ عشرو د ختیځ په څو مایلۍ کي په ۲۷ – ۳۴، ۵۰ – ۶۸ «ن» کي؛ د سروبي په شمال کي کابل ته د تللي سړک په اوږدو کي په ۳۶ – ۳۴، ۴۳ – ۶۹ «ن» کي.

* **لیوان خیل : لهوان خیل**: ۳۳ – ۳۳، ۵۰ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کي د «کاریزونو» د شمال په شاوخو ۴ مایلۍ کي یو کلی دی.

**لیاس خان**: [45]: –۳۳، – ۶۹: دا د لوګر د درې په پورتـنی یا سویلي برخي کي یو کلی دی چي د لوګر د سیند په ښی غاړه کي د حصارک د سویل په شاوخوا ۳ مایلۍ کي واقع دی چي د «پات خاو شانه» [46] ښارګوټی جوړوي. په ۱۸۸۰ز کال کي د دې کلي د استوګنو وګړو شمـېـر ۲۶۰ کورنیو ته رسیدۀ چي ورسره د سیدانو د ۵۰ کورنیو کوچني کلي او هم د احمد زیو د ۱۲ کورنو یو کوچنی کلی وو، پاتي نور وګړي ئـي آستانه زي غلزي او څو مهمند دي. (ایوان سمیټ، کلیفرډ)

* **لیچ**: [47]: ۵۴ – ۳۴، ۴۲ – ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کي د تګاب د شمال ختیځ په شاوخوا ۴ مایلۍ کي یو کلی دی.

**لیچ قول**: ۳ – ۳۵، ۴۷ – ۶۸ : دا یوه تنګه دره ده چي د هندوکش له غرنی لړۍ څخه مخ پر سویل د غوربند پر درې راکوزه سوې ده او په چهاردهي کي د غوربند له درې سره یو ځای کـېـږي.

**لینه:** وګوری: آریوح: [48]:

**لوده**: یا: لودي: [49]: د دې قبـیلي یوازي څو کورنی د جلال آباد په ولسوالي کي عمدتاً په کامي کي شتون لري. دوی وایي چي دوی د کوم غلزي پلار او د یوې سیدې مور له پښت څخه دي. له دې چي د دوی مورنی انا کومه سیده وه نو له لودیانو سره د تقدس او درناوي یو ډول تړلی دی. کیدای سي د دوی شمـېـر له ۴۰ کورنیو پورته نـۀ وي. (جنکینز) یادونه: وګورئ: د «لوهاني» کلی. په دې نوم یو کلی د غزني په ولایت کي د ارغنداب د سیند د یوې څانګي د غاړې په اوږدو کي په ۱۳ – ۳۳، ۲۹ – ۶۷ «ن» کي موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

* **لودم**: [50]:۵۵ – ۳۴، ۴ – ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولایت کي د اسعد آباد په شمال لویدیځ کي د کونړ د سیند د یوې څانګي د غاړې په اوږدو کي یو کلی دی.

**لودرخ**: [51]: ۳۳، – ۶۹: دا «کارایه» د سیند د ښی غاړې په اوږدو کي یو کلی دی. په همدې ډلي کي د علي خیلو او ماما خیلو کلي هم راځي؛ درې واړه کلي په ګډه ۲۰۰ جنګیالي چمتو کولای سي. (آی. بي. سي)

---

45 -LIAS KHAN
46 -Patkao -i- Shahana
47 -LICH
48-LINA See ARIOH
49 -LODA Or LODI
50 -LODAM
51 -LODRAKH

**لوی برو**: وګورئ: بروی کلان: [52]:

**لویه ډکه**: وګورئ: ډکه

**لوی نان**: [53]: ــ ۳۳، ــ ۶۹ : دا یوه تنګه اوږده دره ده چې مخ پر شمال خوا غځېدلي او د «کاره تېږه» [54] په مقابل لور کې پر هزار درخت ورکوزه سوې ده. (آی. بي. سي)

**لوګر**: ۳۳ ــ ۳۴، ۱۷ ــ ۶۹ «الف»: دا د یوهٔ سیند نوم دی؛ د همدې ګزیټر د دویم چاپ پر بنسټ دا سیند د پغمان د غرنی لړی په ختیځو ډډو کې له «اژدها» [55] تقریباً یو مایل پورته له ۱۰۵۰۰ فیټو لوړوالي څخه سرچینه اخلي. همدلته د اوبو چینې له یوهٔ تک شین سمسور او پراخ جبه زار څخه راوځي، دا اوبهٔ تر ۲۰۰ یارډو پورې تر ځمکې لاندې بهېږي او همدا اوبهٔ بیرته په یوهٔ ډنډ کي راوځي، چي لویوالی ئې ۸۰ یارډه دی. همدلته په دغو اوبو دوه د اوبو ژرندې چلېږي؛ اوبهٔ یو ځل بیا تر ۵۰۰ یارډو پورې ورکې سي؛ دا اوبهٔ په همدغهٔ واټن کې تر «اژدها» لاندې تېرېږي او د اژدها له ختیځ څخه راوځي. دلته د اوبو بهیر له کوم خنډ او مانع سره نهٔ دی مخامخ او رڼې اوبهٔ ئې په یوې کوچنی ویالي کې د یوې تکې شنې سمسورې جبه زارې درې له لمنځه تېرېږي، او د هزاره له سیمو څخه اوړي او (له ښی غاړې څخه د مجاب درې [56] ؟) اوبهٔ ورسره ګډېږي، او په شیخ آباد کې له کابله تر غزني پورې درې څخه چې له خپلې سرچینې څخه ۵۰ مایله لیرې ده تېرېږي. «اژدها» کیدای سي هماغه «قلعهٔ هشت در» [57] وي چې په بهسودو کې یو ځای دی او له غزني څخه راغلی سړک ورڅخه تېرېږي. پورته د «پغمان د غرنی لړی ختیځې ډډې» یادې سوې؛ په دې تشریح سره د پغمان د غرنی لړی دا ډډې دلته ډېرې مبهمه ښکارې، دې ته په کتلو سره باور داد دی چې دا سیند د «خوات» او «سیملي» د سیندونو له یو ځای کیدنې څخه رامنځته کېږي، دا دواړه سیندونه له هغې غرنی لړی څخه مخ په ختیځ راکوزېږي چې د هلمند او د ارغنداب د سیندونو د درو د اوبو د بهیدلو لورې په لویدیځ کې د کابل له سیند څخه چې مخ پر ختیځ بهېږي له یو بله جلا کوي.

سیند په شیخ آباد کې ۷۴۷۳ فیټه لوړوالی لري. په همدې ټکي کې د سیند له سره یو پل تېر سوی دی، سره له دې چې د دې پله له سره توپونه تېریدای سي خو غاړې ئې شیوه کیدلو ته اړتیا لري. په «دو آبه» کې چې له شیخ آباد څخه ۳ مایله کوز ځای دی له دې سیند سره د «شنیز» د سیند اوبهٔ یوځای کېږي؛ له همدې ټکي وروسته سیند د ۳۰ مایله لپاره مخ پر ختیځ بهېږي، له همدغو ۳۰ مایلو وروسته سیند خپله مخه شمال ته تاووي او له کابله ۱۰ مایله کوز د کابل له سیند سره یو ځای کېږي. په حصارک کې، شمال لور ته له خپلې وروستې کږیدنې ۳ مایله کوز، د سیند له سره یو پل تېرسوی دی؛ سیند همدلته په یوهٔ تنګ کاهل سیند بدلېږي چې ډېر ژور نهٔ دی او بستر ئې ټینګ شګلن دی او د بهیدلو په ډېریو ځایونو کې پورې غاړه اوښتل ورڅخه شوني دي. د بارانونو پر مهال د سیند د اوبو حجم ډېر لوېږي او په غیر معمول چټکوالي بهېږي، د دغو اوبو د ډېروالي لامل دای چې له شاوخوا غرونو څخه بې شمېره ویالي او

52 -LOE BMW See BARU -I -KALAN
53 -LOE NAN
54 -Karatiga
55 -Azdhaha
56-Majab Dara
57-Kala Hashtdar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوړونه راکوز سوي دي چي اوبـهٔ ئـي سیند ته ورغورځي. د کابل له سیند سره د یو ځای کیدلو له ټکي څو مایله پورته د دې سیند له سره یو پل تـیـر سوی دی، دلته د سیند د اوبو بهیر ډېـر چټک دی، سیند ژور دی او شاوخوا ۵۰ یارډه ارتوالی لري.

له شیخ آباده بیا د کابل له سیند سره تر یو ځای کیدلو پورې سیند ۱۰۰ مایله واټن وهي او د لووړالي توپیر ئـي یوازې ۱۰۰۰ فیته دی له دې کبله سیند نیـږدې ۱۰ په سلو کي سقوط کوي.

د شنیز له سیند سره له یو ځای کیدلو مخکې داسي ښکاري چي سیند په عام ډول د لنګر په نوم یادېـږي.

د دې سیند له اوبو څخه یوازې د ځمکو د خړوبولو لپاره کار اخیستل کـېـږي؛ هغه سیمې او ځمکې چي د دې سیند په اوبو خړوبېـږي په ټول افغانستان کي تر ټولو حاصلخیزه ځمکي او ګڼ- وګړې سیمې دي.

د شیخ آباد او حصارک تر منځ د لوګر د سیند له سره په بې شمـېـرو ټکیو کي بې شمـېـره کلیوالي ساده بومي پلونه تـیـر سوي دي ؛ د اپریل په میاشت کي له هر ځایه له سیند څخه پورې غاړه اوښتل شوني دي ؛ دا مهال د اوبو اوسط ژور والی ئـي ۲ فیته وي. (میسن، ګریفیت، هف، هفلاک، بـېلو، لمسدن)

**لوګر** :۶ – ۳۴، ۳ – ۶۹: دا د افغانستان په ختیځ کي یو ولایت دی چي ۴۴۰۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي چي بزګرې پرګني دي له ۱۱۲۵۷۹ تر ۱۷۲۷۰۴ تـنو پورې اټکل سوی دی. دا ولایت له لویدیځ لوري له میدان، له شمال لوري له کابل، له ختیځ لوري له ننګرهار او له سویل لوري د پکتیا له ولایت سره کرښه لري. لوګر د «ازرو» [58]، محمد آغي، بره کي او پل علم په ولسوالیو او د خوشي او چرخ په علاقه داریو ویشل سوی دی. د ولایت پلازمینه د پل علم ښار دی. د ولسوالیو د لیست لپاره چي د کرهني او اوبو لګولو وزارت د احصائـیي ریاست چمتو کړی دی راتلونکي شپږ جدولونه وګورئ. (لودویګ آدمک)

دا سیمه په ۱۹۱۲ز کال کي په لاندي ډول شرحه سوې ده:

دا هغه سیمه ده چي د لوګر د سیند دره یعنی د سیند له شمالي انحنا څخه سیمه بیا د کابل له سیند سره د یوځای کیدني تر ټکي پورې سیمه په ځان کي رانغاړي. ویل کـېـږي چي د لوګر اوسنی حاکم عبدالرسول خان دی. له غرني څخه تر کابله د سړکونو په منځ کي یو سړک تیرسوی دی؛ دا سړک د لوګر له بر سره تر پای پورې له ټول لوګر څخه تـېـرېـږي، همدا سړک په ۱۸۸۰ز کال د توپچي ځواک د عرابه لرونکو وسایطو د تګ لپاره عملي وګرځول سو. تر کابل پورې د کورم لاره هم له ټول لوګر څخه له خوشي څخه ان تر سفید سنګ پورې تـېـره سوې ده. د دې سیمي لوړوالی له ۸۰۰۰ تر ۵۰۰۰ فیټو پورې دی، خوشي ۷۸۲۹ فیته لوړوالی لري، د «امیت کلا» [59] (د امیر کلا – ژ) ۶۴۴۰ فیته، حصارک ۵۱۴۸ فیته، بره کي راجان ۶۵۵۰ فیته لوړوالی لري. لاندنی راپور د جګړن ایوان سمیث سي. اس. آی د راپور له مخي اخیستل سوی دی؛ نوموړي دا راپور په ۱۸۸۰ز کال کي لیکلی دی؛ له همدې راپور سره د جراح – جګړن جانستن ام. ډی. یو راپور هم مل دی چي د لوګر در درې د جیالوژي، بوټاني او نورو په هکله دی.: ــــ

---

[58] -Azru

[59]- Kala Amit : زما ژباړونکي په باور دا باید د امیر کلا یا قلعـهٔ امیر وي او د امیر پر ځای امیت لیکلي دي. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«کولای سو په عام ډول ووایو چې د لوګر دره په سویل کې له سفید سنګ یعني د «امیر له کلا» [60] څخه مخ پر شمال غځیدلې او د پوهیدلو د آسانۍ لپاره ئې کولای سو په دريو برخو وویشو:

« لومړی :پورتنی لوګر :د امیر له کلا څخه د «سیدانو» او «حصارک» [61] تر منځ د تنګي تر بلې غاړې پورې چې د «تنګي حصارک» [62] په نوم یادیږي غځیدلی دی. دا برخه د ټول لوګر د سیمې ګڼ - وګړي او ډیره حاصلخیزه برخه ده او د «بره کي راجان»، «بره کي برک»، «پاټ خاوی روغاني» او «پاټ خاوی شانه» [63] په نومونو کلي لري او هر کلی ځانته پریمانه خړوبه حاصلخیزه ځمکه لري ؛ دا کلي د ځمکو د مالیاتي مقاصدو لپاره په همدغو ډلو ویشل سوي دي؛ کولای سو د لوګر د درې دا برخه د کابل د غلاتو انبار یا کندو وګڼو.




| د کروندګرو وګړو او تر کښت لاندې ځمکو اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | کلي | کروندګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکه په جریب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| ازرو | ۲۹ | ۴۳۰۰۰ | ۵۷۸۰ | ۶۸۰ | ۲۰۰ | ۸۸۰ | ۱۳۶ | ۴۰ | ۱۷۶ |
| کلنګار «پل علم» | ۷۶ | ۶۶۴۷۰ | ۹۵۱۰ | ۵۴۸۰۰ | ۲۶۹۱۰ | ۸۱۷۱۰ | ۱۰۹۶۰ | ۵۳۸۲ | ۱۶۳۴۲ |
| محمد آغه | ۳۷ | ۲۸۳۰ | ۴۵۰ | ۲۵۶۴۰ | ۱۵۲۶۰ | ۳۸۲۰۰ | ۵۱۲۸ | ۲۵۱۲ | ۷۶۴۰ |

60 -Amir Kala
61 -Saidan and Hisarak
62 -Tangi -Hisarak
63-Baraki- Rajan, Baraki- Barak, Patkaoi- Roghani and Patkao -i- Shahana



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

| ولسوالي | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بره کي | ۴۷ | ۸۱۰۰۰ | ۱۱۰۰۰ | ۲۹۷۶۰ | ۳۲۵۱۰ | ۶۲۲۷۰ | ۵۹۵۲ | ۶۵۰۲ | ۱۲۴۵۴ |
| چرخ | ۵۹ | ۲۸۷۷۰ | ۴۰۸۰ | ۱۹۵۲۰ | ۱۳۱۱۰ | ۳۲۶۳۰ | ۳۹۰۴ | ۲۶۲۲ | ۶۵۲۶ |
| خوشي | ۱۷ | ۱۵۳۲۰ | ۴۰۷۰ | ۲۸۶۰ | ۱۳۴۰ | ۴۲۰۰ | ۵۷۲ | ۲۶۸ | ۸۴۰ |
| تولټال | ۲۶۵ | ۲۳۷۳۹۰ | ۳۴۸۹۰ | ۱۳۳۲۶۰ | ۸۶۶۳۰ | ۲۱۹۸۹۰ | ۲۶۶۵۲ | ۱۷۳۲۶ | ۴۳۹۸۷ |

د مالدارۍ احصائیوي اټکل په ولسوالي او علاقه دارۍ

| ولسوالي | پسونه | قره قل پسونه | وزې | غواګانې | ګاومیښې | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ازرو | ۲۷۶۵ | — | ۸۰۰ | ۲۰۵۲ | — | ۵ | ۷۰ | ۳۰۰۰ | — | ۵۶۱۰ |
| کلنګار «پل علم» | ۲۶۰۵۵ | — | ۱۴۰۰ | ۱۰۶۹۰ | — | ۱۵ | ۷۸۰ | ۸۳۵۰ | — | ۳۵۳۴۰ |
| محمد آغه | ۴۱۵۵ | — | — | ۳۳۵۰ | — | ۲۵ | ۱۱۰ | ۴۸۷۰ | ۲۰۰ | ۱۰۴۸۰ |
| بره کي | ۳۷۳۲ | — | ۳۰۰ | ۵۵۶۰ | — | ۳ | ۸۰ | ۶۷۲۰ | ۳۰۰ | ۲۶۰۱۰ |
| چرخ | ۶۳۰۶ | — | ۴۷۰ | ۷۱۰۴ | — | ۵ | ۱۰۰ | ۹۰۰۰ | ۵۰ | ۳۸۰۲۰ |
| خوشي | ۴۲۷۷ | — | ۵۵۰ | ۲۹۲۴ | — | ۷ | — | ۱۸۵۰ | ۵۰ | ۱۳۸۲۰ |
| تولټال | ۳۷۲۹۰ | — | ۳۵۲۰ | ۳۱۶۸۰ | — | ۶۰ | ۱۱۴۰ | ۳۳۷۹۰ | ۶۰۰ | ۱۲۹۲۸۰ |

د کرنیزو محصولاتو تولید په کابلي سیر

| ولسوالي | غلات | | تولټال | نور محصولات | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خړوبه | للمه | | سابه | صنعتي محصولات | نور مؤقت محصولات | میوی |
| ازرو | ۲۸۴۰۰ | ۲۴۰۰ | ۳۰۸۰۰ | ۲۳۲۰۰ | — | ۳۸۴۰۰ | ۲۸۸۰۰ |
| کلنګار «پل علم» | ۱۷۳۵۲۰۰ | ۱۱۷۷۲۰ | ۱۸۵۲۹۲۰ | ۱۰۰۸۶۸۰ | — | ۱۴۹۰۴۰۰ | ۳۸۹۷۶۰ |
| محمد آغه | ۷۶۸۰۰۰ | ۷۵۸۴۰ | ۸۴۳۸۴۰ | ۴۸۳۹۹۰ | — | ۷۲۰۰۰۰ | ۵۹۵۲۰۰ |
| بره کي | ۱۰۳۹۶۰۰ | ۲۰۶۸۸۰ | ۱۲۴۶۴۸۰ | ۸۳۹۹۹۰ | ۳۴۲۰۰ | ۵۳۷۶۰۰ | ۲۴۹۶۰۰ |
| چرخ | ۵۸۵۲۰۰ | ۱۰۰۶۸۰ | ۶۸۵۸۸۰ | ۳۶۸۳۵۰ | — | ۳۲۴۰۰۰ | ۶۰۲۸۸۰ |
| خوشي | ۷۹۶۰۰ | ۱۶۰۸۰ | ۹۵۶۸۰ | ۳۷۹۸۰ | — | ۶۲۴۰۰ | ۱۳۰۵۶۰ |
| تولټال | ۴۲۳۶۰۰۰ | ۵۱۹۶۰۰ | ۴۷۵۵۶۰۰ | ۲۷۶۲۱۹۰ | ۳۴۲۰۰ | ۳۱۷۲۸۰۰ | ۱۹۹۶۸۰۰ |

تر کښت لاندې ځمکې او د اوبو لګولو سرچینې

| ولسوالي | ساحه په جریب | | | | تولټال | د سرچینو شمېر | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | اوب ژرندې |
| ازرو | ۵۶۲ | ۱۱۸ | — | — | ۶۸۰ | ۱۶ | ۳۳ | — | — | ۲۶ |
| کلنګار «پل علم» | ۴۹۰۲۲ | — | ۵۵۱۸ | ۲۶۰ | ۵۴۸۰۰ | ۵۰ | ۲۵ | ۳۹ | ۱۵ | ۱۵۲ |
| محمد آغه | ۱۹۳۰۰ | — | ۶۰۰۰ | ۳۴۰ | ۲۵۶۴۰ | ۲۰ | ۲۵ | ۳۲ | ۱۴ | ۱۰۵ |
| بره کي | ۲۱۱۸۴ | — | ۸۰۶۶ | ۵۱۰ | ۲۹۷۶۰ | ۳۱ | ۲۶ | ۱۵ | ۵۰ | ۵۶ |
| چرخ | ۱۷۳۶۸ | ۶۲۲ | ۱۴۵۰ | ۴۰ | ۱۹۵۲۰ | ۳۱ | ۳۶ | ۲۴ | ۵ | ۶۸ |
| خوشي | ۱۸۸۴ | ۶۰ | ۸۶۶ | ۵۰ | ۲۸۶۰ | ۶ | ۲۴ | ۱۴ | ۷ | ۲۶ |
| تولټال | ۱۰۹۳۲۰ | ۸۴۰ | ۲۱۹۰۰ | ۱۲۰۰ | ۱۳۳۲۶۰ | ۱۵۴ | ۱۶۹ | ۱۲۴ | ۹۱ | ۴۳۳ |

د محصول پر بنسټ د کرنیزو ځمکو تولټال په کابلي جریب

| ولسوالي | **غلات** | | **تولټال** | **نور محصولات** | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | **خړوبه** | **للمه** | | **سابه** | **صنعتي محصولات** | **نور مؤقت محصولات** | **میوی** | **د کښت سوی ځمکې تولټال** |
| ازرو | ۷۱۰ | ۲۰۰ | ۹۱۰ | ۱۰۰ | — | ۱۶۰ | ۱۵۰ | ۱۳۲۰ |
| کلنګار «پل علم» | ۴۳۳۸۰ | ۹۸۱۰ | ۵۳۱۹۰ | ۴۷۸۰ | — | ۶۲۱۰ | ۲۰۳۰ | ۶۶۲۱۰ |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| محمد آغه | ۱۹۲۰۰ | ۶۳۲۰ | ۲۵۵۲۰ | ۲۲۹۰ | — | ۳۰۰۰ | ۳۱۰۰ | ۳۳۹۱۰ |
| بره کي | ۲۵۹۹۰ | ۱۷۲۴۰ | ۴۳۲۳۰ | ۳۹۸۰ | ۹۵۰ | ۲۲۴۰ | ۱۳۰۰ | ۵۱۷۰۰ |
| چرخ | ۱۴۶۳۰ | ۸۳۹۰ | ۲۳۰۲۰ | ۱۷۴۰ | — | ۱۳۵۰ | ۳۱۴۰ | ۲۹۲۵۰ |
| خوشي | ۱۹۹۰ | ۱۳۴۰ | ۳۳۳۰ | ۱۷۰ | — | ۲۶۰ | ۶۸۰ | ۴۴۴۰ |
| ټولټال | ۱۰۵۹۰۰ | ۴۳۳۰۰ | ۱۴۹۲۰۰ | ۱۳۰۶۰ | ۹۵۰ | ۱۳۲۲۰ | ۱۰۴۰۰ | ۱۸۶۸۳۰ |

| د کښت وړ ځمکې په کابلي جريب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | ټولټال | پووندې | ځنګلونه | تر کښت لاندې | هغه ځمکې چې يو کال کرل کـېـږي او بل کال نه کرل کـېـږي |
| ازرو | ۳۷۷۹۰ | ۲۱۲۱۰ | ۱۵۷۰۰ | ۸۸۰ | ۵۳۰ |
| کلنګار «پل علم» | ۱۰۶۳۸۰ | ۲۴۶۷۰ | — | ۸۱۷۱۰ | ۲۲۲۹۰ |
| محمد آغه | ۸۷۳۵۰ | ۴۹۱۵۰ | — | ۳۸۲۰۰ | ۱۵۸۶۰ |
| بره کي | ۱۱۱۰۲۰ | ۴۸۷۵۰ | — | ۶۲۲۷۰ | ۱۸۴۶۰ |
| چرخ | ۵۰۸۷۰ | ۱۸۲۴۰ | — | ۳۲۶۳۰ | ۹۹۲۰ |
| خوشي | ۱۱۳۸۰ | ۷۱۸۰ | — | ۴۲۰۰ | ۲۸۹۰ |
| ټولټال | ۴۰۴۷۹۰ | ۱۶۹۲۰۰ | ۱۵۷۰۰ | ۲۱۹۸۹۰ | ۶۹۹۵۰ |

«**دوهم: د لوګر وسط:** د حصارک له تـنګي څخه راغځېدلی دی چې تنګي واغاجان هم په ځان کې رانغاړي. د لوګر دا برخه نسبتاً لږ کرل سوې او د وګړو شمــېــر ئـې ډېـر نـهٔ دی. د دې برخې کلي او کرهنيزې ځمکې منحصراً د سيند د غاړو په اوږدو کې دي او د اوبو لګولو نهرونه ئـې د عليا لوګر په پرتلې لږ او يوازې څو داني دي. د دې برخې د کليو عمده ډلې دا دي: حصار، کلنګار او دادو خيل.»

## نور بيا

**«دريم: د لوګر شمال: له تنګي واغجان څخه کابل ته نيــږدې...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندې د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کې د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولې برخې لوستی شئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ